## وزارت امورمهاجرین وعودت کنندگان

## د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت

## د اطلاعاتو او عامه اړیکو ریاست

# خبرپاڼه خبر نامه

**13سنبله _سال 1402**





# اخبار مهم

افغانستان - منطقه - جهان

## فهرست مطالب

عنوان | صفحه

د مهاجرینو چارو وزارت د بنه حساب ورکوني له امله وستایل شو---------------------------------- 1

د مهاجرینو چارو وزارت او دریو موسسو ترمنځ دهمکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک شول ----------- 2

برای 16 تن در ولایت بدخشان کمک نقدی توزیع شد --------------------------------------------- 4

ایران کې په اعدام محکوم افغانان؛ طالبان او ایراني چارواکي یې پر قضیو غږېږي------------------ 4

'ایراني زندانونو کې شپږ زره افغانان بندیان دي'------------------------------------------------ 6

ادامه اعدام زندانیان افغان در ایران؛ متقی با کاظمی قمی در کابل دیدار کرد------------------------ 7

کرېکټ اسیا کپ: بنګله دېش له افغانستانه لوبه په ۸۹ منډو وګټله-------------------------------- 9

# متن کامل اخبار

## د مهاجرینو چارو وزارت د ښه حساب ورکوني له امله وستایل شو

د وزارت ویب پاڼه



تېره ورځ ملت ته د حساب ورکونې پروګرام په اختتامیه غونډه کې د ریاست الوزراء د دفتر ریاست له لوري د نورو امارتي ادارو ترڅنګ د مهاجرینو او راستنېدونکو چارو وزارت هم د ښه حساب ورکونې له امله تقدیر او وستایل شو

په غونډه کې د مهاجرینو چارو وزارت له رهبري پلاوي، رئیسانو او د ویاند له دفتر څخه په یاد پروګرام کې د فعاله ونډه اخستنې، ملت ته په بریالیتوب سره د حساب ورکونې او د اطلاع رسونې بهیر د پیاوړتیا قدرداني او مننه وشوه.



## د مهاجرینو چارو وزارت او دریو موسسو ترمنځ دهمکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک شول

د وزارت ویب سایت



د ۳۵۸ زره او ۵۵۸ امریکایي ډالرو په ارزښت د مهاجرینو چارو وزارت او دربیو همکارو موسسو ترمنځ د همکاریو هوکړه لیکونه لاسلیک شول.

د پیاوړولو او بدلون له پاره د ژمنتیا موسسې سره د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې یاده موسسه به په ننګرهار او کونړ ولایتونو کې ۹۲ زره او ۶۵۰ ډالره ۴۵۰ تنو ته عامه خدمتونو ته د لاسرسي په برخه کې د ظرفیت لوړونې او د روزنیزو پروګرامونو په تنظیمولو کې لګوي.

د پیاوړولو او بدلون له پاره د ژمنتیا موسسه به یو سلو ۹۸ زره او ۹۰۸ ډالره په کندز ولایت کې ۱۹۲۲ تنو ته د حرفوي زده کړو، کوچنیو سودا ګریو ، د اقتصادي فرصتونو په اړه د پوهاوي، د سیمه ییزو شوراګانو په رامنځته کولو او د داخلي بېځایه شوو د ستونزو په اړه د بحث د ګروپونو په جوړولو لګوي.

په همدې توګه د ماشومانو له پاره د المان کمېټه به ۶۷ زره ډالر په ننګرهار او کابل ولایتونو کې ۲ زره او ۸۰ کورنیو ته د حرفوي زده کړو او خوراکي توکو د وېش په برخه کې لګوي.

یاد هوکړه لیکونه د مهاجرینو چارو وزارت د مسلکي مرستیال مولوي عبدالرحمن راشد او یادو موسسو د استازو ترمنځ لاسلیک شول.



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*

## برای 16 تن در ولایت بدخشان کمک نقدی توزیع شد

ویب  سایت وزارت





**به اساس گزارش واصله از ریاست مهاجرین ولایت بدخشان، 16 تن افراد نیازمند درآن ولایت کمک نقدی کمیشنری عالی سازمان ملل متحد در امور پناهنده گان  را بتاریخ 11 سنبله دریافت نمودند.**

**افراد یاد شده پس از سروی و شناسایی از طرف  اداره مهاجرین  بدخشان، در کتگوری های مختلف مبالغ (22 هزار و 600 ، 27 هزار و500 و 52 هزار و 100 افغانی  را جهت اعمار سرپناه بدست آوردند.**

## ایران کې په اعدام محکوم افغانان؛ طالبان او ایراني چارواکي یې پر قضیو غږیږي

بی بی سی پښتو



د عکس سرچینه، HafizZiaAhmad1@

**په افغانستان کې د طالبانو حکومت وايي، د بهرنيو چارو سرپرست وزير امير خان متقي کابل کې د ايران له سفير حسن کاظمي قمي سره په ليدنه کې د ايران او افغانستان د سياسي اقتصادي او فرهنګي اړيکو په پراختيا خبرې کړې.**

**د طالبانو د بهرنيو چارو وزارت وايي، په دې ليدنه کې ښاغلي قمي ويلي، چې د ايران د قضايي برخې پلاوی به د قضايي همکاريو او په ايران کې پر اعدام د محکومو افغان بنديانو دوسيو ته د رسېدنې په موخه په نژدې راتلونکي کې کابل ته سفر وکړي.**

**د طالبانو د بهرنيو چارو وزارت وياند حافظ ضيا تکل پر اېکس (ټوېټر) ليکلي، په دې کتنه کې حسن کاظمي قمي له افغانستان سره د ايران د سياسي، سوداګريزې، اقتصادي، کلتوري او بشردوستانه اړيکو په اړه خبرې وکړې او د کرنې، اوبو لګولو او صنعت په تړاو کابل ته د ايران د وروستي پلاوي سفر اغېزناک وباله.**

**دواړو غاړو د اړيکو د ښه کولو لپاره راتلونکې کې د ورته ناستو او د پلاوو د سفرونو پر اړتيا ټينګار وکړ.**




د عکس سرچينه، IRNA

## 'ايراني زندانونو کې شپږ زره افغانان بنديان دي'

**وړاندې، د ايران د بهرنيو چارو وزارت عمومي کنسولي مشر ويلي وو، د دغه هېواد په زندانونو کې شپږ زره افغانان بنديان دي چې په وينا يې افغانان د ايران زندانونو کې د بهرنيو بنديانو لويه برخه جوړوي.**

**علي رضا محمودي له ايسنا خبري اژانس سره خبرو کې دا هم ويلي چې "تر ټولو ډېر ايراني بنديان ترکيه کې دي" چې په خبره يې، د ۱۴۰۰ هجري لمريز کال له پيله تر اوسه ۹۱۴ ايرانيان په نورو هېوادونو کې بنديان وو چې خوشي شوي او ايران ته ستانه کړل شوي دي.**

**وړاندې، ايران ويلي وو چې د طالبانو له چارواکو سره يې د خبرو او هوکړې په پايله کې د ايران له زندانونو سلګونه افغان بنديان خوشي کړي او د دوغارون پولې له لارې يې افغانستان ته ستانه کړي دي.**

**دا بنديان ۱۳۸۵ کال کې د ايران او افغانستان ترمنځ د بنديانو د تبادلې د هوکړې له مخې خوشي شوي.**



د عکس سرچینه، ISNA

په وروستیو کلونو کې زرګونه افغانان ایران کې بندیان شوي او ځیني یې په اعدام هم محکوم شوي او د اعدام حکمونه پرې عملي شوي هم دي، خو تر اوسه د اعدام شویو افغانانو هېڅ دقیق شمېر نه دی اعلان شوی.

د روان کال مارچ میاشت کې د طالبانو د بهرنیو چارو وزارت اعلان وکړ چې د ایران حکومت ۱۸۹ افغان بندیان خوشي کړي او افغانستان کې یې د طالبانو حکومت ته سپارلي دي.

د تېرې کب (حوت) میاشتې پر ۱۵مه هم ۲۶۸ افغان بندیان د ایران له زندانونو خوشي شوي او افغانستان ته استول شوي وو.

طالبانو د افغان بندیانو د خلاصون چاره د کابل او تهران ترمنځ د ښو اړیکو او همکارۍ د پیاوړتیا لپاره مثبت ګام بللی و.

ددغه وزارت ویاند ضیا احمد تکل ویلي وو، د دغو بندیانو د خوشي کول او لېږدول د ایراني او طالب چارواکو ترمنځ د "خبرو او هوکړې پایله کې" رامنځ ته شوي.

دی وايي، دا هوکړه څو ورځې مخکې تهران کې د دواړو حکومتونو د ځګپوړو پلاوو ترمنځ لاسلیک شوې ده.

د ایران حکومت واک ته د طالبانو له بیا رسېدو وروسته نژدې اړیکې پالي، خو کله-کله پر ځینو مسلو د ترینګلتیا حد ته هم رسېږي.

څو میاشتې مخکې په تهران کې د افغانستان د سفارت چارې طالبانو ته وسپارل شوې چې د سفارت پخوانیو ګڼو دیپلوماتانو خپلې دندې پرېښودې.

## ادامه اعدام زندانیان افغان در ایران؛ متقی با کاظمی قمی در کابل دیدار کرد

رادیوآزادی




براساس گزارش گروه حقوق بشر ایران، پس از شهروندان ایرانی، زندانیان افغان در ایران بیشترین کسانی اند که به اعدام در ایران محکوم شده اند .

وزارت امور خارجه افغانستان می‌گوید که در دیدار روز یکشنبه امیرخان متقی سرپرست این وزارت با حسن کاظمی قمی نماینده ویژه رئیس جمهور ایران برای افغانستان و سرپرست سفارت آنکشور در کابل موارد مختلف از جمله زندانیان افغان در آن کشور مورد گفتگو قرار گرفت.

این وزارت می‌گوید که در این دیدار موضوعات گسترش روابط، همکاری قضایی و رسیدگی به دوسیه‌های افغان‌های محکوم به اعدام شامل بود.

حافظ ضیا احمد معاون سخنگوی وزارت خارجه طالبان دیروز یکشنبه در شبکه اجتماعی ایکس (توییتر قبلی) جزئیات بیشتر در مورد افغان‌های محکوم به اعدام در ایران ارائه نکرد اما پیش از این، فضل محمد حقانی شارژدافیر منصوب شده از سوی طالبان در سفارت افغانستان در تهران هفته گذشته به رادیو آزادی گفت که در میان زندانیان افغان که از سوی تهران به افغانستان تحویل داده شده اند هیچ یکی از آنها به اعدام محکوم نیستند.

براساس گزارش گروه حقوق بشر ایران، پس از شهروندان ایرانی، زندانیان افغان در ایران بیشترین کسانی اند که به اعدام در ایران محکوم شده اند.

این گروه یکشنبه هفته گذشته در ۲۷ اگست در وب سایت خود این را پس از اعدام یک مهاجر افغان در ایران اعلام کرد.

گروه حقوق بشر ایران گفت که یک شهروند افغانستان به نام افتخارالدین که به جرم قتل در ایران به اعدام محکوم شده بود در زندان گودرز ولایت لرستان ایران به دار آویخته شد.

**این گروه افزود که از آغاز ۲۰۲۱ تا سپتمبر آن سال هیچ گزارشی مبنی بر اعدام شهروندان افغانستان در ایران نشر نشده بود اما از سپتمبر ۲۰۲۱ تا اکتوبر ۲۰۲۱ در جریان ۳۵ روز پنج شهروند افغانستان در ایران اعدام شدند.**

## کرېکټ اسیا کپ: بنګله دېش له افغانستانه لوبه په ۸۹ منډو وګټله

بی بی سی پښتو




د عکس سرچینه، ACB

**بنګله دېش د پچې له ګټلو سره لومړی د منډو جوړولو پرېکړه وکړه او په ټاکلو ۵۰ اورونو کې یې د پنځو لوبغاړو په سوځېدو سره افغانستان ته د ۳۳۵ منډو هدف وټاکه. افغان لوبډلې ونشوی کړی ټاکلی هدف پوره کړي او ټول لوبغاړي په ۴۵ اور کې وسوځېدل.**

**د بنګله دېش لپاره په دغې مهمه لوبه کې بنګله دېشي لوبغاړو له پیله چټک پیل وکړ او د افغانستان پر وړاندې یې په لومړیو مهمو لسو اورونو کې د یوه لوبغاړي په سوځیدو ۶۰ منډې جوړې کړې.**

**دا تر دې دمه په لومړیو لسو اورونو کې د افغانستان پر وړاندې د بنګله دېش تر ټولو چټکې او ډېرې منډې شوې چې په یوه ورځنۍ لوبه کې یې کوي.**

**د افغانستان په ګټه لومړۍ وېکټه مجیب الرحمان واخیسته ورپسې په بل اوور کې ګلبدین نایب هم بنګله دیشی لوبغاړی د رحمت شاه په لاسو کېچ اوټ کړ.**

**د دغو دوه لوبغاړو له اوتېدو وروسته د بنګله دېش مهدي حسن ریاض او نجم الحسېن شانتو خورا ښه ملګرتیا وکړه او خپله لوبډله یې تر دغو سترو منډو ورسوله.**



د عکس سرچینه، ACB

**په دغې لوبه کې حسن ریاض ۱۱۲ ناسوځېدلي منډې او شانتو بیا ۱۰۴ منډې وکړې.**

**حسن ریاض په لوبه کې څه ټپي شو او نا سوځېدلی کېناست.**

**دوی دواړو د بنګله دېش په ګټه له ۲۰۰ د ډېرو منډو ملګرتیا وکړه او دا په نړیوال کرېکټ کې پنځم ځل و چې د بنګله دېش دوه لوبغاړي تر ۲۰۰ منډې جوړوي.**

**د افغانستان لپاره ابراهیم ځدراڼ ۷۵، لوبډلمشر حشمت الله شهیدي ۵۱، رحمت شاه ۳۳ او راشد خان ۲۴ منډې جوړې کړې.**

**د بنګله دېش تسکین احمد ۴، شرف السلام ۳، حسن محمود او مهدي حسن یوه یوه وېکټه واخیسته.**

**د لاهور په قذافي لوبغالي کې د دغې لوبې کتلو ته ګڼ شمېر افغانان او بنګله دېشیان هم ورغلي او خپلې لوبډلې له نږدې هڅوي.**

**په پاکستان کې چې ګڼ شمېرې افغان کډوال مېشت دي د لومړي ځل لپاره خپله لوبډله له نږدې په دومره سترو لوبو کې ګوري.**

**د کرېکټ یو افغان مینه وال حسېن همدرد چې د پښتونخوا له بریري کمپه د کرکټ لیدو لپاره لاهور ته تللی**

**له لوبغالي څو ننداړچیانو له بي بي سره خبرو کې دې سیالیو کې د افغان لوبډلې په شتون خوښي وښوده که څه هم په وینا یې "نن یې له افغان توپ اچونکو او توپ نیونکو د داسې لوبې تمه نه لرله چې بنګله دېش به تر دومره لویو منډو پرېږدي."**

**افغانستان له پاکستان او نورو لوبډلو سره په بېلابېلو وختونو کې په بېلابېلو ځایونو کې لوبې کړي خو نن یې په لاهور کې لومړۍ رسمي لوبه وه.**

**بنګله دېش هم له ۲۰۰۸م کال را وروسته هلته له کومې لوبډلې سره مخ دی.**

**دا په دغو سیالو کې د افغانستان لومړنی او د بنګله دېش دویمه لوبه ده.**

**د افغانستان لخوا په لوبیدونکي سکواډ کې نجیب خدراڼ او رحمت شاه زرمتی چې د پاکستان خلاف لوبو کې د ناجوړیدو له کبله نه وو اخېستل شوي شته او په چټکو توپ اچونکو الراونډرانو کې بیا په دوه ښخوانیو لوبغاړو ګلبدین نایب او کریم جنت تکیه شوي.**



**Website:** *https://morr.gov.af*

**Twitter:** *https://twitter.com/MoRRAfg*

**Facebook***: https://www.facebook.com/morr.gov.af2*